نویسنده : ډاکټر نبي مصداق

تاریخ 22/02/2008

# افغان واکمن او پښتو سره تعصب

په افغانستان کې د پښتو ژبې رسمي او ملي حیثیت منل، په دې ژبه د حکومت د دري ګونوارکانو چلول او خصوصآ د پښتنو په سیمه کې په دې ژبه ښونځي او تدریسي موادو جوړول، اصلآ باید د بحث موضوع نوي. څوک ماته د نړۍ له 192 نه زیاتو ملکو کې ، یو مملکت ښودلی شي چه هلته د اکثریت ژبه د ملک رسمي ژبه نوي؟ ولې باید مونږ په خپل ملک کې دومره بې عدالتي او بې حرمتي ومنو؟ مونږ ددري او نورو ژبو پیاوړتیا، ددې ژبو د ویونکو په سیمو کې غواړو. خو په پښتو ژبه د ښونځیو پرانستل په تیره په کابل ، بغلان ، قندز، هرات او فراه کې ، چې ددې هر ولایت په ښارونو کې د نیمائي نفوس په اندازه پښتانه اوسیږي ، ولې د هغه نیمګړي اساسي قانون په اساس چه همدې حکومت جوړ کړو، رفتار نکیږي؟ پښتانه له چانه خیرات نه غواړي ، ولې باید خپل حق ورته ورنکړ شي؟ په کابل کې برسیره په استوګنو پښتنو، اوس هلته د یوې خوا له بهر نه زیات مهاجرراغلي او د بلې خوا ډیر پښتانه چې کورونه او ځمکې یې د ځینو متعصبو جنګسالارانو له خوا غصب شوي او د موجوده حکومت قانون نه مني او کابل ته را کوچیدلي دي ، د پښتو ژبې ښونځیو پرانستل خورا ضروې دی . په هغو باندې د پردیو ملکو د مهاجرت د دورې بې سوادي باید پخپل ملک کې هم تحمیل نشي .

تر اوسه ډیرو پښتنوپه دې مورد لیکنې کړي دي. د فرورې په لمړې جمعه د شهید ځاځي بابا په جومات کې په کابل کې پښتنو مشرانو، چې ډیر یې په همدې نظام کې رسمي دندې لري ، یوځل بیا په مورنې ژبه د پښتنو ماشومانو ته د ښونځیو او زده کړو غوښتنه وکړه ، خو د کرزي مشاورین او د پوهنې وزیر خوشې اوتې بوتې بهانه نیسي او عمل نکوي.

په مورنې ژبه زده کړه په روحي لحاظ ، په کلتوري لحاظ او په علمي لحاظ د یوه سالم انسان د روزنې له ضروریاتو څخه دی. تر څو چه یو څوک په خپله ژبه کې سواد ونلري او د وړکتوب نه یې په هغه ژبه کې روزنه نوي شوی ، په بله ژبه کې هغه رازونه چې یواځې د ژبې ویونکو ته معلوم وي ، هغه تر لاسه کولای نشي . زه په خپله په انګریزي ژبه کتابونه لیکم ، خو په کلتوري او دودیزو ډیرو برخو کې د یوه انګلیس یا امریکائې په څیر نه پوهیږم ځکه چې د وړکوالي نه ددې ژبې په ماحول نه یم لوی شوی .

په اروپا کې سکاندنوي ملکونه لمړی مهاجرو ته په خپله ژبه سواد او زده کړه ورکوي او بیا وربandې خپلې ژبې زده کوي . دا ددې لپاره چې د فکر انکشاف او تحول په مورنې ژبه پورې اړه لري . د یو مثال په ډول ، ولې د خوشال خاټ ، رحمان بابا ، حمید ماشوخیل او ځینو نوروشعرونه هر پښتو ژبې نسل ته د ویاړ ادب دی؟ ځکه چې د هغو په اشعارو کې د ژبې کلتوري ارښتونه نغښتل شوي دي. داسې ارښتونه چې د بلې ژبې ویونکی یې د یوه پښتون په شان اټکل نشي کولی . د هغو په شعرونو کې د پښتو ژبې ژور او نهفته احساسات شته چه په ویلو سره یې زمونږ همدا ډول ویده شوي احساسات را بیداروي . دا ډول عمق او روحي تسکین ، بې د خپلې ژبې نه، په بله ژبه نه تر لاسه کیږي.

ځما غوښتنه ، وروسته له دیرش کاله تحصیل او تجربې نه په پردیو ژبو کې داده چې د پوهنې وزیر، ګران اتمر صیب او د حامد کرزي مشاورین، نور و نه هیریږي او د خپل اساسي قانون او له پاسه نه نازل شوې ډیمکراسې د اساساتو په اصول ، لمړی پښتنو ته او بیا نورو لږکیو ژبو ویونکو ته، پخپلو ژبو ښونځي پرانیځي او مونږ ته چې له ملک نه بهر اوسیږو وظیفه راکړي چې تدریسي موادو په لیکلو او ترجمو کې ، که ضرورت لري ، مرسته وکړو .

ما په خپل کتاب کې جې اوس یې د برطانیه او امریکې د 350 زیاتو پوهنتونو او علمي مرکزونو کې محصلین او څیړونکي استقاده ځینې کوي د ژبې د کشالې د حل په برخه کې لیکلي دي ، جې د افغانستان په هره ولسوالې کې چې د یوې رسمي ژبې د ویونکو شمیر له 50 سلنې نه ډیر وي ، هلته باید ښونه او د ښونځیو تدریسي مواد په هماغه ژبه وي او دوهمه رسمي ژبه ، په اجباري ډول باید تدریس شي . که د کومې بلې ژبې اکثریت په داسې ولسواې کې وي ، هلته شاګردان باید په اجباري ډول د وطن دوې رسمي ژبې زده کړي . (زما په فکر ، د دریمې ژبې اکثریت ممکن له درو یا


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ځلورو ولسواليو نه په ټول ملک کې زيات نوي.) نو په دې ډول کله چې زده کونکي له 12 ټولګي نه فارغ کيږي ټولو به دواړه د ملک رسمي ژبې زده وي . د داسې تهداب په اساس به، په پوهنتنو کې او وروسته د ماموريت په دوره کې، د ژبو مشکلاتونه حل شوي وي . مونږ ښه پو هيږو جې تنکيو ماشومان سره تعصب نشته او که تنګ نظره مشران يي پريږدي ، هغوي به د خپل وطن رسمي ژبې د نورو مضمونو په شان زده کړي .

افغانستان ډير غني ملک دی . مونږ د خپلې ټولې ځمکې نه چې لرو يي ، يواځې د 12 سلنې نه استفاده کؤ. حال دا چې زمونږ مست او خروشان سيندونه په ځلورو خوا کې د بهرنيو استفاده ته وربهيږي . مونږ دومره کانونه لرو چې هر افغان ته د کار او عايد منبع ګرځيدای شي . خو د تنګ نظره ډلو او ټپلو له لاسه، اتحاد او ورورولي نشته او اخته يو د ژبو په برخه کې اوښان په بډو منډو .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de